د عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۲۵

# بګاود ګی

## Bhagavad Gita

**د عبدالباري جهاني انتخاب او ترجمه:**

بګاود ګیتا یا د خدای سرود، د هند، او په حقیقت کي د بشر، د ادبي تاریخ د تر ټولو ستر ادبي شهکار مهابهارت، چي له میلاد څخه پنځه سوه کاله مخکي منځته راغلی دی، یوه وړه برخه ده. مهابهارت، چي د ایلیاد او ادیسي، چي د اروپا تر ټولو ستر او لوی منظوم متن دی، لس چنده اوږد نظم او له څه دپاسه یو میلیون او اته سوه زره کلمو څخه جوړ دی، او یوه برخه یې په هند کي د آرین نژاد د شاهي کورنی د دوو رقیبو ډلو، چي د دوو ورونو اولادونه دي، د یوه عظیم جنګ داستان دی. بګاود ګیتا د همدغه عظیم جنګ په میدان کي پیل کیږي او د مهابهارت له دیرویشتم څخه تر څلوېښتم فصل پوري په برکي نیسي. په دې جنګ کي یوې خواته کوراوا یا د کورو ډله ده چي سل ورونه دي او قهرمان یې بیشما نومیږي. بلي خواته د پاندو یا پنداوا ډله ده چي پنځه ورونه دي او قهرمان یې بیما نومیږي او د دوی له وړور ارجونا سره، چي د نړی تر ټولو ښه غشي ویشتونکی دی، کریشنا د جنګي ګاډی د چلوونکي په رول کي ملګری دی. کریشنا په خپل نوبت، د هندوانو د یوه لوی خدای ویشنو روح په ځان کي لري او ګواکي دا جنګ د هغه له لوري رهبري کیږي. د جنګ میدان کوروشیترا، چي ځیني څېړونکي وایي همدغه پاني پټ وو، تاکل سوی او په دواړو خواوو کي په لس هاوو زره جنګیالي، سلاکاران، ښوونکي او مشران برخه لري.

بګاود ګیتا له پیل څخه د ارجونا د سولي په انساني پیغامونو او خواستونو پیل کیږي او په پای کي د تصوف د فلسفي دونه ژور افکار په ځان کي لري چي سړی دا نه سي منلای چي دې افکارو به پر اسلامي تصوف، په تېره بیا د هند پر اسلامي تصوف باندې اغېزه نه وي کړې. عجیبه نه ده چي د مغول شاه جهان مشر زوی داراشکوه، چي پخپله یې صوفیانه افکار درلودل او پخپله یې صوفیانه شعرونه لیکلي دي، د هندو مذهب د نورو کتابونو ترڅنګ، دا کتاب په فارسي ژبه ترجمه کړ. بګاود ګیتا، په اته لسو فصلونو کي په نظم ترتیب سوی او یو لوی کتاب دی چي ما یې یوازې ځیني برخي د ترجمي لپاره انتخاب کړې دي.

د بګاود ګیتا متن، د جنګ په میدان کي هغه وخت پیل کیږي چي دواړو خواوو ته دښمن پوځونه هر ګړی حملي ته تیاری کوي. او کله چي ارجونا د جنګ په میدان کي، په خپل مقابل کي، خپل د کاکا زامن، خپل دوستان، ښوونکي او خپلوانویني نو نه غواړي چي وجنګیږي او کریشنا ته مخ ور اړوي:

« پر ما ګرانه کریشنا، د جنګ په دې میدان کي زما خپلوان دي او کله چي زه هغوی وینم نو د وجود غړي مي وریږدي او خوله مي وچه وچه کیږی»

« زه نور دلته پاته کېدلای نه سم. زما څخه خپل ځان هېر دی او ماغزه مي سرګردانه دي. زه دلته یوازي بدمرغي وینم، اې د شیطانانو وژونکې کریشنا»

« زه په دې نه پوهېږم چي په دې جنګ کي به د خپلو خپلوانو له قتلولو څخه څه ښېګڼه ترلاسه کړم. زه د دې جنګ لپاره نه زړه کولای سم او نه یې په نتیجه کي برى، پاچهي او خوشالۍ غواړم»

« او کریشنا! کله چي ټول هغه کسان چي زه د هغوی لپاره د خوښیو آرزو کوم، دلته زما سره وجنګیږي نو د خوښۍ او ژوند معنا به څه وي؟ او کریشنا کله چي زما ښوونکي، پلرونه، زامن، نیکونه، ماماګان، خسر، لمسیان، اخښیان او نور خپلوان زما سره جنګ ته تیار وي او غواړي چي په دې جنګ کي خپل مالونه او سرونه قرباني کړي نو زه باید ولي د هغوی د قتلولو آرزو ولرم حتی که زه دوی مړه نه کړم او په عوض کي دوی ما مړ کړي؟ اې د ټولو ژوندیو هستیو ساتونکې! یوازي دا دنیا خو پرېږده، حتی که د دریو نړیو پاچهي را بخښې زه د هغوی سره جنګ ته تیار نه یم. زه به د دړاتارشترا د زامنو د وژلو څخه څه خوښي تر لاسه کړم؟»

« که موږ دغه متجاوزین قتل کړو، د نړۍ مخ به ګناهونه ونیسي. نو دا لازمه نه ده چي موږ د دړاتارشترا زامن او خپل دوستان ووژنو. اې د خوشبختۍ د الهې مېړه کریشنا! موږ به له دې فتحې څخه څه ترلاسه کړو او کله چي مو خپل دوستان او خپلوان قتل کړي وي نو بیا به د خوښۍ مفهوم څه وي؟»

« که څه هم چي د دې کسانو زړونه حرص لاندي کړي دي او د خپلي کورنۍ د غړو او دوستانو په وژلو کي ری نه وهي نو موږ ولي، چي د خپلي کورنۍ تباهي جنایت راته ښکاري، په دغه ګناه کي ځانونه شریک کړو او خلک قتل کړو»

ارجونا د دوهم فصل په پنځم، شپږم او اووم سرود کي وایي:

« تر دې چي د لویو کسانو، چي زما ښوونکي دي، د وژلو په بیه ژوند وکړم نو تر دې خو ګدایي ښه ده. دوی که حتی د مادي ګټو د ترلاسه کولو لپاره ملا تړلې ده بیا هم لوی انسانان دي. که دوی قتل سي نو هر څه چي موږ په لاس راوړو هغه به په وینو رنګ وي»

« موږ په دې هم نه پوهېږو چي برى بهتر دی او که د دوی په لاس فتح کېدل ښه دي. که موږ د دړترارشترا زامن قتل کړو موږ ته به په ژوند کي څه راپاته سي. خو دوی دا دی د جنګ په میدان کي راته ولاړ دي»

« زما څخه لاره ورکه ده زه نه پوهېږم چي څه وکړم. ما د خپلي کمزورۍ له له امله ټول عقل او حواس له لاسه ورکړي دي. زه اوس ستا څخه غوښتنه کوم، راته ووایه چي اوس زما لپاره تر ټولو ښه لاره کومه یوه ده. زه ستا مرید یم او خپل روح مي تاته درتسلیم کړی دی. لطفا هدایت راته وکړه»

لوی ذات ورته وویل« ته د پوهانو په څېر خبري کوې، مګر په داسي څه دي زړه غمګین دی چي د خپګان ارزښت نه لري. څوک چي هوښیاران دي هغوی نه پر ژوندو او نه پر مړو افسوس کوي»

« داسي زمانه هیڅ وخت نه وه چي زه موجود نه وم، نه ته، نه دا ټول پاچاهان موجود ول او نه به په آینده کي زموږ څخه یو هم نېستي سي»

« مجسم روح، پرله پسې په وجود کي، له هلکتوب څخه، تر ځوانۍ پوري او تر زړېدلو پوري ګرځي. دغه ډول روح، د مرګ په وخت کي، بل وجود ته انتقالیږي. څوک چي هوښیار وي هغه له دغه تغییر څخه نه بیریږي»

« هغه وجود چي د نه تباه کېدونکي او دایمي روح لپاره جوړ سوی دی هغه حتما تباه کیږي او عمر یې پخپله پای ته رسیږي. ځکه نو زه تاته وایم چي وجنګیږه»

« د روح لپاره، هیڅ وخت، نه زیږېدل سته او نه مرګ ورته راځي. روح نه پیدا سوی دی، نه اوس پیداکیږي او نه به وروسته پیدا سي. روح هیڅ وخت نه دی زیږېدلی. هغه همېشه او تل دی. هغه هر وخت دایمي او ابدي دی. کله چي وجود قتل سي نو روح نه قتل کیږي»

« لکه یو څوک چې نوي جامې اغوندي او زړې باسي. روح هم زوړ او بې ضرورته بدن پرېږدي او نوی مادي وجود انتخابوي»

« څوک چې وزیږي هغه حتما مري او پسله مرګه حتما بیرته ژوندی کیږي. ځکه نو ته باید له هغې وظیفې څخه چې تاته درسپارل سوې ده مخ وانهړوې. ته باید افسوس او ویر ونه کړې»

« ته باید، د یوه کشاتریا په حیث، خپله وظیفه وپیژنې، ته باید په دې پوه سې چې ستا لپاره د مذهبي اصولو په خاطر تر جنګېدلو بهتره وظیفه نسته. نو ته باید په دې کې هیڅ ری ونه وهې او هیڅ ډول ځنډ ونه کړې»

« که ته د خپلي مذهبي وظیفې او مسوولیت په خاطر ونه جنګیږې نو ته به په وظیفه کې د غفلت په ګناه ونیول سې او د یوه جنګیالي په حیث به دې شهرت خراب سي»

« لوی جنرالان به ، چې ستا د نامه او شهرت درناوی کوي، داسي ګومان وکړي چې تا له ویري د جنګ میدان پرېښود او بیا به نو تا په سپکه یادوي»

« اې ارجونا! ته به یا د جنګ په میدان کي وژل کېږې او اسماني ژوند به دې په برخه سي او یا به فتح کوې او د ځمکي پاچهي به د درسیږي. نو پورته سه او جنګ ته تیاری وکړه »

« ته حق لرې چې خپله وظیفه سرته ورسوې؛ مګر د خپل عمل د ثمر اخیستلو حق نه لرې. هیڅ وخت فکر ونه کړې چې پېښه ستا د عمل نتیجه ده او هیڅ وخت په درسپارل سوې وظیفه کي زړه نا زړه نه سې»

د شپږم فصل په لومړي متن کي ارجونا ته وایي« هغه څوک چې د خپل عبادت او کار د ثمر په غم کي نه وي او هغه څوک چې خدمت خپله وظیفه او وجیبه بولي او د ژوند له نعمتونو څخه لاس پرسر سوی وي هغه حقیقي ذاکر دی نه هغه څوک چې هیڅ اور نه لګوي او هیڅ عبادت نه کوي»

« ته باید وپوهېږې چې د دنیا ترک وهلو ته یوګا یا له ستر‌ذات سره یو ځای کېدلو ته ویل کیږي. ځکه چې تر څو یو څوک د دنیا له ټولو نعمتونو څخه لاس پرسر نه سي هغه ریښتونی جوګي کېدلای نه سي»

« یو څوک چې نفس وپژنې هغه یوګي یا صوفي بلل کیږي. دغه راز یو څوک له مادي نړۍ څخه بهر اوسیږي او پر ځان باندي بشپړ کنټرول لري. هغه ډبري، شګي او طلا ته په یوه نظر ګوري»

لارډ کریشنا د همدغه شپږم فصل په لسم متن کي وایي« یو عارف باید هر وخت خپل وجود، مغز او خودي له خپل ستر خالق سره مشغول وساتي. هغه باید په جلا او ګوښه ځای کي واوسیږي او هر وخت خپل ماغزه کنټرول کړي. هغه باید له ټولو خواهشاتو او د شته منیو د ځښتن کېدلو له آرزو څخه بېغمه وي»

لارډ کریشنا له شلم څخه تر دیرویشتم متن پوري، ارجوناته وایي« د کمال په مرحله کي چې جذبه یا سمادي بلله کیږي، سړی باید، د یوګا په کولو سره، خپل ذهن، په بشپړه توګه، له مادي فعالیتونو څخه را وګرځوي. د سړي کمال یا سمادي هغه وخت معلومیږي چې خپل نفس په پاک او خالص ذهن کي ولیدلای سي او په خپل دننه کي د خوښۍ احساس وکړي. کله چې څوک دغه مقام ته ورسیږي نو هیڅ وخت له حق څخه نه جلا کیږي.او کله چې دې ځای ته ورسیږي نو فکر نه کوي چې تر دې به هم لویه لاسته راوړنه موجوده وي. کله چې یو سړی دغه مقام ته ورسیږي بیا چې هر څونه خوارۍ او زحمتونه ورباندي راسي اراده یې تغییر نه کوي. دا نو له ټولو هغو بدمرغیو څخه  چې له مادي نړۍ سره د تماس او پیوند څخه منځته راځي ریښتونې ازادي ده»

کریشنا په  څلېرویشتم متن کي وایي « یو څوک باید تل زما په ذکر یوګا  مشغول وي اړو دغه لاره یې په بشپړه ایمانداري نیولې اوتعقیب کړې وي او له دې لارې څخه پر بله مخ وانه ړوي. هغه څوک چې، پرته له هیڅ استثنی، د دنیا له ټولو خواهشاتو او آرزوګانو څخه تېر سي او د خپل مغز او ذهن په واسطه خپل ټول حواس له هري خوا را وګرځوي »

په اووه ویشتم متن کي وایی « هغه  جوګي چې ذهن یې یوازي زما سره مشغول وي هغه حقیقتاً د عالم بالا د خوښیو تر ټولو لوړ کمال ته رسیږي. هغه تر جسماني غوښتنو لوړ وي. هغه پوهیږي چې په ځان کي یې د ستر‌ذات صفتونه پیدا کړي دي او ځکه نو د مخکنیو عملونو په مقابل کي له هر ډول عکس العمل ښکاره کولو څخه خلاص وي»

« حقیقي جوګي ما په ټولو موجوداتو کي ویني او دغه راز ټول موجودات په ما کي ویني. په حقیقت کي، هغه څوک چي خپل نفس یې پېژندلی وي ما په هر ځای کي د سترذات په څېر ویني»

« هغه څوک چي ما په هر ځای کي ویني او هر څه په ما کي ویني هغه ما هیڅکله نه ورک کوي او نه یې زه هیڅکله ورک کوم»

هغه جوګي چي د ستر روح په عبادت مشغول وي هغه پوهیږي چي زه او سترروح یو وجود یو. هغه جوګي تل او په هر حالت کي په ما کي اوسي»

په شپږدېرشم متن کي وایي « داسي څوک چي ذهن یې یوازي زما خواته متمرکز کړی نه وي، د هغه لپاره د نفس پېژندل ګران کار دی. مګر هغه څوک چي خپل ذهن او ماغزه یې کنټرول کړي وي او په مناسبو طریقو تلاښ او کوښښ کوي، هغوی حتما مطلب ته رسیږي»

په اووه دېرشم متن کي ارجونا پوښتنه کوي « او کریشنا! د هغه ناکام سالک سرنوشت به څه وي چي، په لومړي سر کي، په ایمانداری، د نفس پېژندني لاره واخلي مګر وروسته یې ذهن په دنیایي غوښتنو د مصورفیت له امله له خپلي لاري منحرف سي او ځکه نو ستا د پېژندني په لاره کي پاته راسي؟ »

« ای غښتلي کریشنا! آیا دغه راز یو څوک ، چي د سلوک په لاره کي یې دنیایی غوښتني له لاري واړوي نو هغه له روحاني او دنیایی ښېګڼو څخه نه بې برخي کیږي؟ او د وریځي د یوې ټوټي په څېر د اسمان په لویه لمن کي نه ورکیږي چي وروسته یې نو په هیڅ سیمه کي د وجود درک نه وي؟»

« ستر ذات په جواب کي ورته وویل ای د پریتا زویه! هغه سالک چي یو ځل زما پر لاره روان سي او زما په ذکر لګیا سي هغه نه په دې دنیا او نه په روحاني دنیا کي تباه کیږي. څوک چي یو ځل نېکی ته مخه کړي، پر هغه باندي شر غلبه نه کوي»

« هغه جوګي یا سالک چي کلونه کلونه د پرهېزګارانو په منځ کي ژوند وکړي هغه ( پسله مرګه) بیرته د نېکانو په کورنی کي دینا ته راځي او یا په یوه شته منه کورنی کي زیږي»

خدای د خپلو سالکانو خواریو او زحمتکښیو ته ګوري او، که په نوي ژوند کي وغواړي او یا ونه غواړي، په دوهم ژوند کي یې د هغوی د پخواني ژوند په ادامه د جوګیانو او سالکانو لاري ته سموي. یو سالک چي یو ځل پر لاره برابر سو بیا به نو د تل لپاره د زهد له اصولو څخه انحراف نه کوي»

« او کله چي یو جوګي یا سالک په اخلاص سره په خپله لاره کي د نور پرمختګ لپاره هلي ځلي پیل کړي نو هغه له ټولو چټلیو څخه پاکیږي او له څو ځله مریني او بیا زیږېدلو څخه وروسته بالاخره خپل کمال ته رسیږي او خپل هغه اعلی هدف ته چي خپل ژوند یې ورته وقف کړی وو رسیږي»

او د همدغه شپږم فصل په اووه څلوېښتم متن کي لارډ کریشنا ارجونا ته وایي« او په ټولو جوګیانو کي هغه یو چي پر ما باندي ټینګه عقیده لري او تل په ما کي اوسي او تل له ځان سره زما په باب فکر کوي؛ هغه په یوګا کي زما سره تر نورو ټولو وصل وي او هغه تر نورو ټولو لوړ دی»

لارډ کریشنا د اووم فصل په شپږم متن کي وایی چي ټول مخلوقات زما د ذات د مادي او معنوي وجود په دوو اړخونو کي شامل دي. د مادي او معنوي نړی ټول موجودات په دې پوهیږي چي زه د هستی د پیل او ختم سرچینه یم »

« ای د شته منیو فتح کونکي! تر ستر حقیقت نسته. هر څه زما په وجود پوري داسي تړلي دي لکه مرغلري په لاړ کي»

په اتم متن کي وایي « ای ارجونا زه د اوبو خوند یم، زه د لمر اوسپوږمی نور یم، زه په ویدي منترونو کي د ( اوم) توری یم. زه په هوا کي آواز یم او د انسان توان او طاقت یم »

« زه د مځکي ذاتي او اصلي عطر یم. زه د اور تودوخه یم. زه د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند یم او زه د ټولو مرتاضانو توبه یم »

په دوولسم متن کي وايي « پوه سه چي د وجود ټول حالتونه، که ښه والی دی، که هیجانات دي، که ناپوهي ده ټول زما د ارادي ښکارندوی دي. زه هر چېرته یم مګر زه مستقل یم. زه د مادي طبیعت له تغییراتو سره تړلی نه یم او په مقابل کي هغوی ټول په ما کي دي»
په پنځه ویشتم متن کي وايي « احمقانو او بي عقلانو ته هیڅکله ځان نه ښیم. زه له هغوی څخه ځان په خپله قوه پټوم. او ځکه نو دوی نه پوهیږي چي زه له هیڅا زیږېدلی نه یم او له خطا څخه مصوون یم»
« اې ارجونا! زه د سترخالق په حیث، په هر څه چي په پخوا کي پېښ سوی دي خبر یم. څه چي اوس پېښیږي او څه چي له دې وروسته به پېښیږي ماته را معلوم دي. زه دغه راز په ټولو ژوندیو موجوداتو پوهېږم مګر ما هیڅوک نه پېژني»
د اتم فصل په نهم متن کي وایي « سړی باید د هغه سترذات ذکر وکړي، چي په هر څه خبر دی، هغه چي تر ټولو قدیم دی، هغه چي ټول کاینات یې په کنټرول کي دي، که څه واړه دي او که څه تر ټولو شیانو واړه دي. هغه چي د هر څه ساتندوی دی او هغه چي د مادي درک او پوهېدلو تر قدرت وتلی دی او هر وخت موجود دی. هغه چي د لمر په څېر روښانه دی او تر دې مادي جهان لوړ دی »
د نهم فصل په پنځم متن کي وایي « او سره له هغه چي ټول مخلوقات زما په وجود کي نه دي. مګر زما ذاتي او سِری قوت وګوره چي سره له هغه چي ټول موجودات ساتمه او سره له هغه چي په هر ځای کي موجود یم؛ زه د دې کایناتو برخه نه یم ځکه چي زه پخپله د دې کایناتو خالق یم»
په اووه لسم متن کي وایي « زه د کایناتو پلار او مور یم، حامي یم او لوي پاچا یم. زه د معرفت هدف او غایه یم. زه پاکوونکی او د (اوم) توری یم. زه دغه راز ریګویدا، سماویدا او یجور ویدا یم»
« زه هدف یم، زه ساتونکی او حامي یم، زه څښتن یم، شاهد یم، پناه ګاه یم او تر ټولو عزیز ملګری یم. زه هم خالق او هم له منځه وړونکی او تباه کونکی یم. زه د هر څه بنسټ یم، د آرام ځای او دایمي زنی او اصل یم »
« اې ارجونا! زه د تودوخي سرچینه یم او دا زه یم چي باران هم راګرځوم او هم یې اوروم. زه بقا یم او زه دغه راز د مرګ مظهر هم یم. روح او ماده دواړه په ما کي اوسي »
د لسم فصل په دوهم متن کي وایی « نه نیمه خدایان او نه پوهان او حکیمان زما په مبداء او قدرت خبر دي ځکه چي زه هم د نیمه خدایانو او هم د حکیمانو خالق یم»
په دریم متن کي وایي « هغه چي ما پېژني چي له هیچا زیږېدلی نه یم، چي خلقت ته مي ابتدا نسته او د ټولو جهانونو ستر بادار یم. هغه به داسي انسان وي چي هیڅکله نه تېروزي او له ټولو ګناهونو به پاک وي »
په څلورم او پنځم متن کي وایي « هوښیاري، علم، له شک او ګومان او له انحراف څخه آزادي، عفو، ریښتینتوب، د خواهشاتو کنټرول، د مغز کنټرول، خوښي او خواشیني، زیږېدل، مړینه، وېره، عدم تشدد او سوله، مساوات، رضاییت، ریاضت، صدقي او خیراتونه، ښه شهرت او بدنامي، او د ژوندیو موجوداتو دا ټول راز راز کیفیتونه ما او یوازي ما پیدا کړي دي»
په شپږم متن کي وایي « اووه لوی حکیمان او له هغو څخه مخکي څلور لوی حکیمان او د بشر پلرونه ( مانو) ما پیدا کړي دي او زما د ذهن او دماغ محصول دي او په بېلو بېلو سیارو کي ټول ژوند کونکي له ما څخه نشأت کوي»
« هغه څوک چي زما په قوت او سِری او صوفیانه قدرت ریښتوني عقیده ولري او زما په خالص عبادت او خدمت لګیا وي نو په دې کي هیڅ شک نه لري»
« زه د ټولو معنوي او مادي جهانونو سرچینه یم. ټول شیان له ما څخه راځي. هغه هوښیار کسان چي په دې حقیقت په بشپړه توګه پوه وي هغوی زما په خدمت لګیا وي او د زړه له اخلاصه زما عبادت کوي»

ارجونا وویل« ته تر ټولو لوی خدای یې. ته د آرام وروستنی ځای او پناه ګاه یې. ته تر ټولو خالص او مطلق حقیقت یې. ته دایمي یې، د عقل تر جهان بهر یې، اصلي ذات یې، له هیچا زیږېدلی نه یې او تر ټولو ستر یې. ټول لوی حکیمان او پوهان لکه نارادا، اسیتا، ډیوالا او ویاسا ستا په باره کي دا حقیقت مني او اوس دغه حقیقت دی چي ته یې ماته اعلانوې»

نولسم متن وايي« بلي زه به د خپل قدرت او عظمت په باب یوازي هغه څه درته بیان کړم چي ډېر مهم او څرګند دي. اې ارجونا! زما قدرت او قوت بې سرحده دی»

په شلم متن کي وايي « اې ارجونا! زه ستر روح یم او د ټولو ژوندیو موجوداتو په زړونو کي اوسم. زه د ټولو موجوداتو پیل، مابین او انجام یم »

ارجونا، د لارډ کریشنا څخه د خپلو سوالونو په ترځ کي، وغوښتل چي خپل ځان په اصلي بڼه ورته وښيي. لارډ کریشنا د ده غوښتنه ومنله او دایې ورته وویل چي نه ته او نه بل څوک ما په عادي سترګو لیدلای سي. زه به تاته خدایي سترګي درکړم او ته به زما له اسرارو ډک قدرت ووینې. ستر ذات، له دې خبري سره، خپله اصلي بڼه ارجونا ته وښودله. د یوولسم فصل یوولسم متن وايي:

« ارجونا په هغه جسم کي چي دنیا یې ټوله ونیوله، نا محدود شمېر خولې، نامحدودي سترګي، بې اندازې عجیب او غریب تصویرونه ولیدل. د سترذات شکل په ډېرو زیاتو اسماني زېوراتو رنګین سوی وو او بې شمېره خدایي وسلې ورسره وې. اسماني کمربندونه او جامې یې اغوستي وې او له بدن څخه یې بې شمېره خدایي عطر پورته کېدل. ټول عجیب وو، ځلېدی او بې انتهی وو»

« که په سل هاوو زره لمرونه، په یوه ځل په اسمان کي، راپورته سوي وای رڼا او ځلا به یې ښایي د ستر ذات ځلا ته نه پاتېدلای»

« ارجونا ولړزېدی او له وېري او دهشت څخه یې د وجود وېښتان شخ سول. ارجونا خپل د تعظیم سر ورته کښته کړ. لاسونه یې پر سینه کښېښودل او د ستر ذات په ستایلو یې پیل وکړ»

« اې د کایناتو څښتنه او پر ټوله کایناتو غوړېدلی! زه ستا په وجود کي بې شمېره لاسونه، بې شمېره خولې او سترګي وینم چي هري خواته غځېدلي او تللي دي او اندازه یې نه لګېږي. زه په تا کي نه آخر، نه مابین او نه پیل وینم»

« ته لومړنی ستر او عمده هدف یې. ته د ټولو کایناتو وروستنی ارامګاه یې. ته د ختمېدلو او سترتیا نه یې او ته تر ټولو قدیم یې. ته د دایمي مذهب ساتونکی یې. ته هغه سترخدای یې او دغه زما عقیده ده»

« ته نه پیل، نه مابین او نه آخر لرې. ستا عظمت ناپایه دی. ته بې شمېره لاسونه لرې او لمر او سپوږمی ستا سترګي دي. زه وینم چي له خولې دي سره اورونه را وزي. او په خپلو شغلو سره دا ټول کاینات سوځولای سې »

« که څه هم چي ته یو یې؛ خو په اسمان، سیاراتو او د هغوی ترمنځ سیمه کي غځېدلی یې. اې سترذاته! کله چي په سیاراتو او نړی کي ستا دغه شکل څرګند سي نو پر ټولو به له حیرته زلزله پرېوزي»

« اې پر ټولو کایناتو غوړېدلي ویشنو! زه چي ستا دې ځلېدونکو شکلونو ته ګورم چي تر اسمانه رسیږي، ستا بې شمېره خولو او ځلېدونکو سترګو ته ګورم، له وهمه مي ټول وجود او ماغزه له کنټرول وزي. زه نور خپل ځان او ماغزه کنټرولولای نه سم»

د یوولسم فصل دوديرشم متن وايي: « ستر ذات ارجونا ته وویل زه د جهانونو لوی تباه کونکی یم او راغلی یم چي ټول انسانان تباه کړم. یوازي تاسي پنډاوا پرېږدم. په دواړو خواوو کي ټول والړ عسکر وژنم»

« نو ولاړ سه! جنګ ته تیاری ونیسه او برې وګټه. خپل دښمنان فتح کړه او د یوې سمسوري پاچهی مزه واخله. دا کسان ما د وخته وژلي دي او ته اې ساواساچي! په دې جنګ کي فقط یوه وسیله یې»

« ډرونا، بیشما، جایاډراتا، کرنا او نور ستر جنګیالي ما له وخته تباه کړي دي. بس وخوځېږه او قتل یې کړه او هیڅ ری مه وهه. بس هسي وجنګېږه او ته به خپل غلیمان په جنګ کي مات کړې»

وروسته له هغه چي ارجونا د ستر ذات د قدرت او عظمت ستاینه کوي نو د همدې فصل په نهه دېرشم متن کي کريشنا ته وايي « ته هوا يې، ته د ټولو کايناتو تر ټولو ستر کنټرولونکی یې. ته اوبه يې، ته سپوږمی يې، ته برهما يې، ته لومړنی ژوندی موجود يې او ته د ټولو تر ټولو ستر پلار يې. زه ځکه تاته زر ځله د تسليم سرټيټوم او بيا او بيا سردرته ټيټوم»

د همدغه فصل په اته څلوېښتم متن کي ستر ذات ارجونا ته وايي« اې د کورو د جنګياليو بهترينه! زه په خپل دغه شکل تر اوسه پوري چا نه وم ليدلی. ځکه چي نه د ويدا په لوستلو، نه په قربانيو، نه په صدقو او خيراتونو، نه په نېکو عملونو او نه په سختو رياضتونو او توبو ايستلو ما څوک په مادي نړۍ کي په خپل شکل ليدلای سي»

په پنځه پنځوسم متن کي وايي « پر ما ګرانه ارجونا! هغه څوک چي د زړه له اخلاصه زما خدمت کوي او د هر خدمت او بندګۍ په بدل کي يې پاداش او انعام په نظر کي نيولی نه وي. هغه څوک چي زه يې د خپل ټول ژوند هدف ګرځولی يم او د ټولو ژونديو شيانو دوست او ملګری وي هغه يقيناً چي ماته راځي »

د دوولسم فصل په شپږم او اووم متن کي وايي « هغه کسان چي زما بندګي کوي او ټول کارونه يې زما لپاره پرې ايښي وي او ټول ژوند يې ماته داسي وقف کړی وي چي هيڅ خواته انحراف نه کوي. ټول عمر زما په ذکر لګيا وي او ټوله توجه يې زما خواته اړولې وي. اې د پريتا زويه! زه هغوی د مرګ او زېږېدلو له لوی سمندر څخه ژغورم»

« فقط ټوله توجه دي زما خواته واړوه. ټول فکر او ذکر دي د ستر ذات خواته متوجه کړه او ټول عقل دي ماته وقف کړه. ته به هر وخت بېله شکه په ما کي ژوند کوې»

په شپاړسم متن کي وايي« هغوی چي د عادي ژوند هره شېبه يې ماته ځانونه وقف کړي وي، پاک خلک وي، ماهر وي په درد او غم کي ری ونه وهي او د عبادت په بدل کي د انغام په فکر کي نه وي هغه ماته ډېر ګران دي»

« څوک چي نه خوښي او نه غم کوي. څوک چي نه په څه خواشيني کيږي او نه يې په زړه کي تمه او غوښتني وي او څوک چي زما لپاره مبارک او نامبارک شيان ټول ترک وهي دغه کسان ته ماته ډېر ګران دي»

د ديارلسم فصل شپاړسم متن وايي« ستر حقيت د ټولو ژونديو موجوداتو، د متحرکو او ساکنو موجوداتو دباندي او دننه هستيږي. ځکه چي د هغه وجود دونه ظريف دی چي په سترګو نه ليده کيږي او په عقل يې درک کول اسانه کار نه دی. هغه له موجوداتو څخه ډېر ليري دی او په همدغه حال کي ټولو ته ډېر ورنيژدې دی»

اته لسم متن وايي« هغه د ټولو نوراني شيانو نور دی. هغه د مادي نړۍ له تاريکی ها خواته دی او نا پيدا دی. هغه معرفت دی، د معرفت منبع ده او د معرفت هدف دی. هغه د ټولو په زړونو کي ځای لري»

پنځه ويشتم متن وايي« ځيني کسان عالي روح يا سترذات د ذکر له لاري په خپلو ځانونو کي پيدا کوي، ځيني يې د علم او معرفت له لاري پيدا کوي او ځيني يې د هغو عبادتونو د لاري پيدا کوي چي په زړونو کي يې د پاداش او بدل آرزو نه وي»

د پنځه لسم فصل په پنځم متن کي وايي« هغه کسان چي د دنيا د اعتبار او شهرت په غم کي نه وي، خپله سمه لاره ورته معلومه وي او د بدانو له صحبته يې ځان ژغورلی وي. هغوی چي ابديت پيژني او له مادي او شهواني غوښتنو سره يې پرېکړون کړی وي. هغه چي د خوښيو او غمونو په وخت کي لاره ورکه نه کړي. هغوی چي پوهيږي چي څرنګه سترذات ته ځانونه تسليم کړي، هغوی دايمي پاچهی ته ورتللای سي»

« زما ستر کور نه په لمر او نه په سپوږمی روښانه دی. نه اور او نه برېښنا ته ضرورت لري. هغوی چي دې کور ته ځانونه ورسوي بيرته مادي نړۍ ته نه ګرځي»

د اووه لسم فصل پنځم متن وايي« هغوی چي داسي سخت رياضتونه کوي او داسي توبې باسي چي په مقدسو متونو کي نه دي راغلي او توصيه سوي او رياضتونه د خپل شخصي غرور او خودخواهی لپاره کوي او هر وخت د شهرت او دولت غم ورسره

وي. دا احمقان دي؛ هم خپل ځانته شکنجې ورکوي او هم په خپل وجود کي دننه عالي روح په عذابوي. دوی ته باید دېوان او شیطانان وویل سي»

څوارلسم متن وايي« د وجود رياضت د ستر ذات عبادت، د برهمنانو، روحانيونو، د مور او پلار خدمت، پاکي، سادګي، تجرد او په سوله کي ژوند دی»

د اته لسم فصل پنځه پنځوسم متن وايي« يو سړی ما لکه څرنګه چی يم، د خالق د ستر ذات په صفت يوازي د طاعت او عبادت له لاري پېژندلای سي. او کله چي يو څوک ما د دغه راز طاعت او عبادت له لاري په بشپړه توګه وپېژني نو هغه کولای سي چي د خدای پاچهی ته ور ننوزي»

« يو څوک چي په اخلاص زما عبادت کوي، که څه هم چي د دنيا په نور کاروبار به لګيا وي خو زما تر حفاظت لاندي، زما په مرسته هغه ځای ته رسيږي چي هلته مرګ نسته او ژوند دايمي دی»

شپږشپېتم متن وايي « ټول مذهبونه پرېږده او فقط ماته ځان تسليم کړه. زه به دي له ټولو ګناهونو څخه خلاص کړم. مه وېرېږه»

« دا پټ علم بايد هيڅ وخت هغو کسانو ته بيان نه کړې چي رياضت نه کوي، طاعت او بندګي نه کوي او يا په بدو او منحرفو چارو لګيا وي او نه به يې هغو کسانو ته بيانوې چي زما سره ضديت او کينه لري»

اته اويا يم او وروستی متن وايي« هر چيري چي د ټولو صوفيانو بادار کريشنا دی، او چيري چي د نړی تر ټولو غښتلی غشي ويشتونکی ارجونا وي نو هلته به يقينا قوت او پرېماني وي، بری به وي، فوق العاده قوت او نېکی به وي. دا زما عقيده ده»

پای

**** **** ****

بګاوود ګی

jahani_a_bahari_bagaaod_gi.pdf